**د ښځو پر وړاندې د تاوتریخوالي ځانګړې راپور ورکوونکې په افغانستان کې خپل ماموریت بشپړ کړې او د داسې دوامدار تدبیرونو غوښتنه یې کړې چې د ښځو پر وړاندې د تاوتریخوالی د لاملونو او پایلو ته، د انفرادي، موسساتی او ساختاری کچو په ګډون، رسیدګي وشي**

کابل (۱۲ نومبر ۲۰۱۴) – د ملګرو ملتونو ځانګړې راپور ورکوونکې آغلې رشیده منجو د ښځو پر وړاندې د تاوتریخوالی، د هغه لاملونو او پایلو په اړوند، خپل د ۹ ورځني ماموریت په پای کې چې د افغانستان اسلامی جمهوریت د کابل، جلال آباد او هرات په ولایتونو کې تر سره کړې دغه لاندني وینا ورکړیده:

"ما ته د بشري حقونو د شورا له خوا دنده وسپارله شوه چې د ښځو پر وړاندې د تاوتریخوالي، د هغه لاملونو او پایلو په اړوند مالومات ولټوم او تر لاسه کړم او د داسې تدبیرونو وړاندیز وکړم چې د ښځو پر وړاندې د تاوتریخوالو ټول ډولونه له منځه ولاړ شي د ښځو او نجونو پر وړاندې تاوتریخوالی یو پراخ او سیستماتیک څنډ دي چې په عامه او یا شخصی چاپیریال کې تر سره کیږي او د ښځو او نجونو د ژوند پر ټول دوران باندې ناوړه اغیزه لري. دغه پدیده د مدني، سیاسي، اقتصادي، ټولنیز، کلتوري او د ارتقاء او وده کولو حقونو تحقق ورکول په ټپه دروي او د ښځو او نجونو د تابعیت د اغیزمن تعمیلولو کې خنډ ګرځي."

زه غواړم چې د افغانستان د حکومت څخه خپله قدرداني څرګند کړم چې ما ته یې بلنه وکړه ترڅو هیواد ته دغه رسمی سفر تر سره کړم. زه د خپلو ټولو مخاطبینوڅخه، د دولتي چارواکو په ګډون، د مدني ټولنو د موسساتو استازو، د ملګرو ملتونو موسسو و په ځانګړي ډول د تاوتریخوالو د قربانیانو څخه مننددوي یم.

**په افغانستان کې د ښځو او نجونو وضعیت او واقعیتونه**

په هیواد کې د څلورو لسیزو دوامداره وسله واله جګړې د بی ثباتي، ناامني، تاوتریخوالي، د قانون د حاکمیت پر وړاندې ننګوني، د بی روزګاري او بی وزلی کچې یې په بیساري ډول زیاد کړي او د افغانستان د خلکو د بشری حقونو څخه برخمن کیدل او د هغو د اغیزمن تعمیلولو پر وړاندې خنډ شوي دی. باید تصریح شي چې ناامني، د جندر پر بنسټ دوامداره تاوتریخوالی او د ډار تلپاتي چاپیریال د ښځو او نجونو د بشري حقونو د ودې، ساتلو او پلي کولو باندې ناوړه اغیزه درلودلی دی.

غواړم روښانه کړم چې افغانستان ته زما د ماموریت په اړوند دا لومړني لیدنه نه ده چې د ښځو پر وړاندې د تاوتریخوالی وضعیت، د هغه لاملونو او پایلو وارزولو په لټه کې تر سره شوي ده. د دوو پخواني ماموریتونو تر سره کوونکو په کال ۱۹۹۹ او کال ۲۰۰۵ کې، په ترتیب سره، د هیواد څخه لیدني تر سره کړي دي. لومړني لیدنه د طالبانو د رژیم پر مهال تر سره شو، چې په دغه وخت کې د ښځو پر وړاندې تبعیض په رسمي ډول تایید شوي وو، چې د ښځو د ژوندانه ټولي چاري یې په ناوړه ډول اغیزمن کړي وو. د تاوتریخوالی د بیلابیلو ډولونو بر سیره، چې په عام ډول د پوهیدو وړ وو، د سختو فتوا ګانو صادرول چې په هغه کې ښځې د پوهني او روزني، کار، د هغوي د خوځښت پر آزادی باندې بندیزونه لګول او د نورو بندیزونو تر څنګ، د ځانګړې پردې کولو تحمیلول، د افغانستان د ښځو او نجونو پر ژوندانه باندې تلپاتي ناوړه اغیزه درلودلی دی.

اوس زه غواړم چې د لومړني ځانګړې راپور روکوونکې د څو توصیو یادونه وکړم کوم چې په ۲۰۰۰ کال کې د ملګرو ملتونو د بشري حقونو کمیسیون ته وړاندې شوي وو. د ماموریت تر سره کوونکی دغه لاندې ټکي یاد کړ: "سوله او امنیت باید افغانستان ته بیا راوړشي. که چیري وضعیت ښه نه شي، افغان وګړي دا توان نلري چې د بشري حقونو د بیسارو تیریو څخه خلاصون وموومي کوم چې سیمه یې په څو لسیزو کې په مصیبت اخته کړي دی." د ماموریت تر سره کوونکې د جګړې د پایته رسوولو او همدارنګه، د سوله ییزو سیاسی خبرو اترو له لارې، د یو پراخ بنسټه، ګڼ میشته او بشپړ استازی حکومت رامنځته کولو غوښتنه کړي وو چې په نړیواله کچه د تایید شویو بشری

حقونو درناوي وکړي او ټول هغه پالیسیګانی ترک کړي چې د نړیوالو بشري حقونو د اصولو سره په ټکر کې دی کوم چې افغانستان د هغه سره ملحق شوي.

په راپور کې یوه بله مهمه توصیه په سوله او سیاسی پروسه کې د ښځو د ګډون اړتیا یاد شوي وو. همدارنګه د ماموریت تر سره کوونکی توصیه کړي وو چې د جګړي ټولی خواوي باید د ښځو او نجونو پر وړاندي د بشری حقونو تیري پایته ورسوي، د شخصی امنیت په اړوند د ښځو د حقونو درناوي تامین کړي، د ښځو پر وړاندي د تر سره شویو جرمونو په اړوند احتساب او عدالت باید تامین کړي او بیړنی تدبیرونه ونیسی تر څو د ټولو توپیرلرونکو قوانینو، پالیسیګانو او کړنو له منځه وړل ډاډمني شی. په بیلا بیلو کچو کې د یاد شوي توصیو زیاتره برخي د نني افغانستان د وضعیت سره مطابقت لري.

د افغانستان څخه د دغه ماموریت دوهمه لیدنه د طالبانو د رژیم د راپرزولو څخه څلور کاله وروسته تر سره شو. د ماموریت تر سره کوونکي په ۲۰۰۶ کال کې د ملګرو ملتونو د بشري حقونو کمیسیون ته په راپور کې تایید کړ چې د ښځو د وضعیت د ښه کولو کوښښونه په افغاني ټولنه کې د بیلابیلو سیاسی او اقتصادی لیږد او د بدلون د ننګونو سره نږدي تړاو لري او مهمه دا ده چې هڅه کیږي تر څو د ځواک د حاکمیت څخه د قانون حاکمیت ته حرکت وکړي. راپور دا حقیقت روښانه کوي چې د ښځو او نجونو پر وړاندي په بیساري کچه تاوتریخوالی د نارینه حاکمیت په دودیز سیستم کې ریښه لري په کوم کې چې ښځي او نجوني د خپلواکو انسانانو موقف نلري. د دوامداري دودیزی او کلتوری پلارځواکي او همدارنګه د مذهب د ناسم تعبیر په کارولو سره ښځي نوري هم محرومي شوي چې د دوي پر وړاندي د تاوتریخوالي دایره یی نوره هم پراخه کړي ده. همدارنګه د ماموریت اجرا کوونکي وویل: "په افغانستان کې ډول ډول د رسم او رواجونو سیستمونه د قدرت د هغو سیستونو پلوي کوي چې موخه یې، په عامه او شخصي ژوندانه چارو کې، پر ښځو باندي ظلم و فشار راوړل وي، د معافیت دود آسانه کړي او د ښځو لپاره او همدارنګه د ښځو د حقونو د مدافعینو پروړاندي ستر خنډونه پیدا کوي." راپور د ښځو پر وړاندي د " نزغملو او نامتوازن، تاوتریخوالی کچې ته د تایید او هغه ته د رسیدګی اړتیا بیا څرګنده وي – چې د امنیت او اقتصادی پراختیا سره همقطار دی. هغي د تاوتریخوالي څخه د ښځو او نجونو د ساتني لپاره د بیړني تدبیرونو غږ او غوښتنه یي وکړه، او د یو پیاوړي دیموکراتیک او پراخ بنسټه حکومت جوړولو اړتیا یي بیا څرګنده کړه چې دا ځواک ولري تر څو یو داسي اقتصادی او ټولنیزي پراختیا چاپیریال تامین کړي په کوم کې چې ښځي او نجوني په بشپړ ډول ګټمني شي. یو ځل بیا، زیات شمیر موندني او وړاندیزونه د نني افغانستان د وضعیت سره سمون لري.

د افغانستان څخه زما لیدنه یو فرصت دي چې د ښځو د بشري حقونو په لا پراخه محدوده کې د هغوي پر وړاندي د تاوتریخوالي د له منځه وړلو، لاملونو او پایلو په اړوند د تیرو ۹ کلونو پراختیاوي او ننګوني منعکس کړم. د اوس مهال پراخي امنیتی اندیښني او له ډاره څخه ډک عمومی چاپیریال د ښځو او نجونو پر وړاندي د تجربه شویو تاوتریخوالی کچي لا پسي په ناوړه ډول اغیزمن کوي. زیات شمیر راپورونه او مصاحبي د دواړو عامه او شخصی ژوندانه چارو کې د ښځو پر وړاندي د پر له پسی او بیلابیلو ډولونو تاوتریخوالي شتون، د هغو تاوتریخوالي په ګډون کوم چې د میړه او نورو نږدي خپلوانو له خوا تر سره شوي، د وختي او په جبر سره ودونو، په بدو کې د ورکولو په ګډون تاوتریخوالي، موخي/بدل کولو، د محارمو سره زنا، ناموسی جرمونو، ځان سوځول، د کورني تاوتریخوالي او جبري ودونه تاییدوي. د پای د خبرو په ډول، د هرات ساحوي روغتون د سوځیدنی روغتون څخه زما د لیدلو پر مهال، ما ته وویل شو چې کله چې ښځي او نجوني دا ډول کړنو ته لاس وهي د دوي موخي ځان وژنه نه وي بلکي غواړي چې دوي ته پاملرنه وشي او د ستونزي حل غواړي. همدارنګه دوي ځانونه په کلکه ژوبل کوي چې په ځینو پیښو کې د دوي د مرګ لامل ګرځي. دغه موضوع په کال ۲۰۱۱ کې د قضا د محدودي څخه بهر، اختصاری او عمدي وژني د ځانګړی راپور ورکوونکي په تعقیبی راپور کې هم تایید شوي وو. د تاوتریخوالو نورو ډولونه لکه د ښځو په نښه شویو وژنو، په کار ځاي او یا په عامه محلونو کې جنسی آزار او اذیت او پر ښځو او نجونو باندي جنسی تیري هم شتون لري.

**پر مختګونه او ننګونی**

په ۲۰۰۱ کی د بن د موافقی تصویب او منل په افغانستان کی د یوه دیموکراتیک حکومت د جوړولو لپاره رامنځ ته شوه. د نورو پر مختګونو تر څنګ، د بن دموافقی تطبیق کول په دی تمام شو چی په ملی کچه اساسی قانون تصویب شی چی ښځو او نارینه و ته یی برابر حقونه ورکړی دی، اساسی قانون په سیاسی او مدنی ژوند کی د ښځو به ونډه اخیستلوکی د زیاتوالی سبب شوی او ددی ژمنه یی رامنځ ته کړی چی د نړیوالو بشری حقونو درناوی وشی لکه د ښخو په وړاندی د تبعیض د ټولو شکلونو د له منځه وړلو د تړون تصویب. په خصوصی ډول د ښځو د حقونو د پرمختګ په لار کی څو موسساتی او قانونی لاسته راوړنی لکه په ملی کچه د بشری حقونو د موسسی ایجادول، په ملی کچه د ښځو د حقونو وزارت او په ولایتی کچه د ښځو د حقونو ریاستونه، په ځینو وزارتونو کی د بشری حقونو څانګی، په ځینو

وزارتونو کی د جندر ځانگی ، د ښځو پر علیه د خشونت د منع قانون نافذیدل او په دغو نژدی وختو کی د امنیت د شورا د ۱۳۲۵ ښځو ، سولی او امنیت د قطعنامی د تطبیق دپاره د ملی برنامه تصویب.

د ښځو پر وړاندی د خشونت د منع قانون پر ۲۰۰۹ کی د ولسمشر د فرمان په ذریعه نافذ شو او دا قانون (له رواجونو، دودونو او هغو عملونو سره مبارزه کوی چی د ښځو پر ضد د اسلام د مذهب پرخلاف د خشونت سبب گرځی) حکم احتوا کوی. قانون ۲۲ د خشونت داسی عملونه فهرست کوی لکه د ښځو په وړاندی جنسی تیری، جبری فحشا، د ښځو سوزول او هغو ته زهر ورکول، داسی خشونت آمیزه چلند کول چی ددی سبب وگرزی چی ښځی ځانونه ووژنی یا ځان ته زیان ورسوی، د ژوبلی یا معیوبیت سبب وگرزی، وهل ټکول، د ازدواج په غرض د ښځو خرڅول، بد، جبری ازدواج او په کم عمر کی ازدواج. دغه قانون د ښځو او نجونو په وړاندی د خشونت محو کولوکی یو مهم گام مخ په وړاندی دی او حقوقی او جنایی درملنی لری. ددی قانون د تطبیق لپاره حکومت د ښځو پرعلیه د خشونت د منع د قانون کمیسیون ایجاد کړی او په ځینو ولایتونوکی ددی قانون پر بنست د تعقیب خصوصی ځانگی او د پولیسو په حوزو کی د کورنی غبرگون ځانگی جوړی شوی دی. پر دی بر سیره ددی دپاره چی د راپور ورکولو په غرض یو مناسب چاپیریال ایجاد شی، نوری ښځینه پولیس افسرانی استخدام شوی. د بین المللی ټولنی په مرسته د مربوطو دولتی چاراواکو د پوهاوی له پاره روزنیز پروگرامونه دوام لری.

ماته ویل شوی دی چی په راتلونکی کال کی به څو نور قانونی اصلاحات رامنځ ته شی لکه د جزا په قانون باندی بیا یوه هر ړخیزه کتنه، چی د جنسی آزارونی په شمول د جندر پر بنست د خشونت جرمونه په کی شاملیږی. د جرگو او شوراگانو د قضاوت او وظایفو د تنظیم له پاره قانونی مسوده ددی له پاره اهمیت لری چی ددغسی غونډ و او د اساسی قانون، اړونده قوانینو او دا رنگه د شرعیت سره د اختلافونو په حل کولو کی د سمون په اړه لارښوونه کوی. همدغه راز له اړوندو برخه والو سره لکه علما سلامشوری شوی دی چی د کورنی د قانون یوه هراړخیزه مسوده رامنځ ته شی.

د اوسنیو او نویو گواښونو په باب د معلوماتو له مخی د ښځو او نجونو له پاره عدالت ته د لاس رسی او په خپله د عدالت په اړه چی په غیر رسمی سیستم کی او یا د اختلافونو د حل کولو په غیررسمی غونډوکی تر سره کیږی، په ډیرو مرکو کی د زیاتو اندیشنو سبب شوی. ډیرو برخه والو وویل چی رسمی عدالت ډیرو برخوکی ناقص وو لکه د لاس رسی نه درلودل، بی پروایی، اداری فساد او بی اعتمادی خصوصاً د ښځو د حقونو په اړه. دغه لاملونه او همدارنگه ټولنیز فشار چی له ستونزو سره په کورنیو کی دننه چلند کیږی، ډیر ځله ددی سبب گرزی چی ښځی له رسمی عدالتی سیستم څخه بهر د اختلافاتو د حل کولو له پاره له وساطت څخه پرته بله چاره نه لری. د اختلافونو د حل کولو غیر رسمی غونډی لکه جرگی او شوراگانی دډیرو برخه والو له خوا تر انتقاد لاندی راغلی ځکه چی د عادلانه محاکمی او د برابری او د تبعیض ضد حقونو خصوصاً د ښځو او ماشومانو په اړونده مسلو کی تیری کوی.

بله ننگونه چې په ډاگه شوی د دولتی چارواکو لخوا د مربوطه قوانینو په ځانگړی توگه د ښځو پر وړاندی د تاوتریخوالی قانون د واقعی تفسیر او پلی کیدو نشتوالی موضوع ده. ډیری مرکه کوونکو وویل چې د راپور ورکونی پر وړاندی خنډ د پولیسو په سکتور کې د ځواب نه ورکونی او جنسی تعصب موجودیت دی. برسیره پردې، د ښځو او نجونو پر وړاندی د مرتکب شویو جرمونو په څیړلو یا عدلی تعقیب کې پاتې راتلل د دی سبب شوی تر څو د بخښنی فضا لا ټینگه شي او تاوتریخوالی عادی وگڼل شي او د منلو وړ ښودل کیږی. د تبعیض نه ډک قضاوتونه او په خپل سری ډول محکومونه د هغه ادعاگانو نمونی دی چې د ښځینه مدافعینو لخوا تجربه شوی چې د دولت د عدلی نظام پر وړاند بی باوری لا ډیروې. د ښځو پر وړاندی د تاوتریخوالی قانون د پلی کیدو پر وړاندی ننگونی د نورو بنسټونو او ادارو لخوا هم ثبت شوی دی لکه: د ملگرو ملتونو بنسټونه، د افغانستان لپاره د ملگو ملتونو مرسندویه پلاوی (یوناما) او د ملگرو ملتونو د پرمختیایی پروگرام (یو ان ډی پی) په گډون، د افغانستان د بشر د حقونو خپلواکه کمیسون او گڼ شمیر د مدنی ټولنی اورگانونه.

پردی بر سیره دیری ښځی او نجونی چی خشونت ورسره کیږی شکایت نه کوی ځکه چی دوی له قانون او قانونی تحفظ حخه خبری نه دی، له مجرمینو او د کورنی د غړو له غچ څخه ویره لری، مالی یا نور محدودیتونه لری، د گرزیدو د آزادی د نشتوالی په شمول، او له دی ویری څخه چی د قربانیانو په څیرنه بلکه د مجرمینو په ډول ورسره چلند به وشی، که چیری دوی د تر سره شویو جرمونو په اړه راپور ورکړی. دیرو مرکه ورکونکو وویل چی دوی (د اخلاقی جرمونو) په تور تورنی شوی دی لکه له کورنی خشونت او په عمر کی له ازدواج څخه د تیښتی په وخت کی. ښځی او نجونی چی له خشونت څخه تیښتی کوی د کورنیو، ټولنو او چارواکو له خوا څخه په مرگ تهدیدیږی کله چی دوی کورونو ته راوگرځی.

ډېرې ښځې او نجونې په داسې شرايطو کې ژوند کوي چې نا برابرۍ، وروسته پاتې والی، د بيسوادۍ لوړه کچه او د کارۍ او تعليمي فرصتونو نشتوالی په کې حاکم وي خصوصاً له ښارونو څخه په لرې سيموکې. په داسې شرايطو کې، د خشونت د مسلو حل کول، له طلاق د اخيستلو ستونزې، له ميراث څخه محروميت، ددې ويره چې ددوی ماشومان به ورڅخه بيل شي دا ټول ددې سبب گرزي چې ښځې په دغسې ناوړه حالاتوکې پاتې شي. په ځينو ولايتونو کې د پناځايونو موجوديت د ښځو له پاره يوه داسې محافظتي چاره ده چې له خشونت او تبعيض څخه د خلاصون په لټه کې وي. د تاسف ځای دی چې د پناځايونو او ددې ځايونو د کارمندانو په اړه نظريات زما د پاره د ژوری انديښنې خبره ده. دډيرو افرادو په نظر پناځايونه داسې موسسات دي چې ښځې د کورونو پرېښودلوته هڅوي، او دوی دې ته هڅوي چې غير اخلاقي کارونه وکړي، داسې کارونه چې په دوديزه او مذهبي محافظه کاره ټولنه کې غير قابل قبول دي لکه فاحشه خانې او داسې تاسيسات چې د کورنيو د ړنگيدا سبب گرځي. هغو مرکه کوونکو چې ما په پنا ځايونوکې ورسره وکتل په دې ډېر خوشحاله وو چې دغسې لارې چارې شته ځکه چې له خشونت څخه د فرار يوازينې چاره ده. دا څرگنده ده چې ښځې او نجونې په پناځايونو کې ډير وخت تيروی کله تر پنځو کلونو پورې هلته پاتې کيږي. دا کار معمول نه دی خو په افغانستان کې ضروري دی ځکه چې د ښځو حالات داسې دي لکه چې وويل شول. د اوږد او منځنی مهال د پاره ددې ضرورت شته چې د ښځو او نجونو لپاره د اوږد مهال پناځايونه پيدا شي تر څو دوی و توانيږي چې له پناځايونو څخه د ژوند خپلواکو او خوندي شرايطوته ووزي.

پناه ځايونه په نړيواله کچه منل شوي ميکانيزمونه دي کوم چې ساتنه، درملنه،حقوقي خدمتونه او کله نا کله د اقتصادي پياوړتيا فعاليتونه چې موخه يې د ښځو او نجونو غښتلتيا ده برابروی څو په دې توگه هغوی خپلواکه او په ځان متکي اشخاص و اوسي او بيا دا اشخاص د خپل انکشاف په برخه کې فعال عامل و اوسي. د يو شمير زياتو ميکانيزمونو په حيث، پناځايونه هم د هغوی په تصريح شويو موخو او تطبيق کې د ننگونو سره مخ دی او د وخت په تيريدو په تدريجي توگه تکامل او بدلون مومي څو په دې توگه هغه موخې خپلې کړی کومې چې د ښځو او ماشومانو په گټه وي. لکه څنگه چې دوی لا نوره وده کوی، دا يوه داسې پروسه ده چې په افغانستان کې پناه ځايونه به هم له دې څخه تيريږي.

بله مطرح شوی ننگونه د ښځو او نجونو لپاره د اخلاقي جرمونو د زياتې مودې د زنداني کولو مسله ده، ما په کابل کې د بادام باغ د زندان او په هرات کې د زنکيو د اصلاح د مرکز څخه ليدنه وکړه چيرې چې ما د يو شمير محکومو کسانو او د محاکمې څخه وړاندې د يو شمير توقيف شويو کسانو سره مرکې ترسره کړې. يو شمير ځواب ويونکو په ډاگه کړه چې د زنداني کيدو څخه وړاندې هغوی د کورونو څخه د تيښتې او د کورونو د پريښودو په خاطر د فزيکي او جنسي خشونت سره مخ شوي. يو شمير زياتو مرکچيانو يادونه کړی چې د کور د پريښودو، د زنا لپاره د محکوميتونو سره د ترلو جرمونو په شمول، ژوبلو او وژنو د هغوی د محکوميت او خوندي کونکو پريکړو لپاره لار هواره کړی. د افغانستان د قانون مطابق د کور څخه تيښته جرم نه دی او دا د ستری محکمې د يوه فرمان په واسطه تقويت شوی. د هغو دوو مرکزونو څخه چې ما ليدنه کړی په هغو کې يو شمير زياتې ښځې او نجونې د هغوی د مدني حالت د نه په نظر کې نيولو پرته د انجام شوی زنا په تور محکومې شوی. د هغه احتمال پر بنسټ چې تورونه ولاړ وه دا ښي چې ښځې ښايي د کور څخه د هغوی د نه شتون په وخت کې په غير اخلاقي چلند کې ښکيلې وی. يادونه شوی چې دا محکوميتونه عموما د نا سم سلوک په کمو شواهدو ولاړ وی او څيړنې د سهل انگاری له وجې نه دي تر سره شوی، د بکارت د معلومولو ازموينې ترسره شوی او د دې دول ازموينو پايلې يې اکثرا د محکوميت د شواهدو پر اساس کارولې. د مرکچيانو د ډلې څخه زياتو کسانو ويلې چې هغوی د عادي جرمونو لکه غلا،د مخدره توکو قاچاق، تهديد يا قتل لپاره بندي شوی دی.

تيره اونۍ، په کابل کې د يوه زندان څخه د ليدنې پر مهال ولسمشر غني وويل چې نوموړی به د پوليسو،څارنوالانو يا قاضيانو د تيروتنو په خاطر د خپلو خلکو بندي کول و نه زغمي. نوموړی وړاندې وويل، دا د حکومت مسوليت دی چې د ټولنې وقار وساتي او غوښتنه يې وکړه چې د جنسي تيرې ادعا گانې دې کره او ثابتې شي.[1] د دې بيان په رڼا کې، هيله کوم چې د افغانستان حکومت به د هغوی د ټولو دوسيو د بيا کتنې له لارې د ښځو او نجونو د بشري حقونو د وقار ساتنه وکړي څو په دې توگه وکولای شي داډ حاصل شي چې په دغه دوسيو کې د عدالت ناوړه قضايي جريان وجود ونه لري.

**پايله**
په ټول افغانستان کې د بې امنيتي حالت سره سره ځينې د قانون او د اداروجوړولو پرمختگ په ډيره روښانه بڼه ليدل کيږي. دا د ښځو د خونديتوب او انکشاف دپاره د يوی سياسي ارادی څرگندونکی دئ او بيلگه يي په لوړو کچو مقامونو

[1] http://president.gov.af/en/news/president-ghani-i-cant-tolerate-to-see-our-people-imprisoned-for-mistakes-by-police-prosecutors-or-judges

کی د ښځو استخدامول دِی. د یو شمیر لاسته راوړنو سربیره، لکه څنګه چی یادونه یی د مخه هم وشوه، داسی پرمختګونه نه باید هغه حقیقت کم رنګه کړی چی د ښځو په وړاندی خشونت لا هم په افغانستان کی یوه ژوره اندیښنه ده . په اوس حال کی، د اطلاعاتو د راغونډولو داسی پراخ او جامع میکانیزم موجود نه دی چی حکومت او عامه وګړی په دی وتوانوی چی په هیواد کی د دی پدیدی اندازه په بشپړه توګه معلومه کړی. د حکومت د ادارو او مدنی ټولنی د سازمانونو لخوا د احصایو د راغونډولو سربیره، دا اټکلونه د مناقشی وړ دی او دا په دی پوری اړه لری چی د چا سره خبری شوی او د چا څخه یی دا معلومات تر لاسه کړی. لکه څنګه چی د قوانینو او پالیسی ګانو د نا سم تفسیر او تطبیق نه شتون د افغانستان د حکومت پاملرنی ته اړتیا لری ، په ورته ډول د مناسبو سرچینو د اختصاص مسله د پایدارو حل لارو را منځ ته کولو ته لار هواره وی.

دا مهمه ده او باید په یاد ولرو چی افغانستان نړیوال حقوقی مسولیتونه لری، لکه څنګه چی دلته ځای شوی، چی د نورو ټولو میثاقونو په منځ کی، د ښځو په وړاندی د تبعیض د ټولو ډولونو د له منځه وړلو میثاق او د ماشومانو د حقونو په هکله میثاق په ځای کړی. دولت مسولیت لری چی د هر ډول سهل انګاری پرته د ښځو او نجونو په وړاندی د خشونت د ټولو ډولونو د له منځه وړلو په برخه کی عمل وکړی. په دی مسولیت کی د خساری د جبران په شمول، ساتنه، مخنیوی،څیړنه،مجازات او د موثره حل لارو برابرول شامل دی. د دی علاوه، دولت نه یواځی د خشونت د مرتکبینو د احتساب بلکه د حکومتی چارواکو څوک چی د ښځو او نجونو د بشری حقونو د سرغړونو د مخنیوی او ساتنی په برخه کی د غبرګون د نه شتون له امله یا د غیر موثره غبرکونونه له امله پاتی راغلی د احتساب مسولیت لری.
مهمه ده دا و پیژنو چی د ښځو او نجونو په وړاندی خشونت د بشری حقونو څخه سرغړونه شمیرل کیږی او دا د توپیر او نابرابری په څو ګونو او متقاطع ډولونو کی ریښی لری، او دا په کلکه د ښځو د ټولنیزو،فرهنګی او اقتصادی حالتونو سره تړاو لری. د ښځو په وړاندی د خشونت د عملونو لپاره د یوه نورم په حیث، د حساب ورکونی په اهمیت نه شی کیدای زیات تاکید وشی، په خاص ډول په عامه او شخصی ځایونو کی د خشونت لپاره د عمومی معافیت د زمینی په دننه کی. د ښځو او نجونو په وړاندی د ترسره شویو ټولو جرمونو لپاره حساب دهی، د ښځو پیاوړتیا او د ټولنی بدلون د افغانسان د حکومت، خپلواکو دولتی ادارو،مدنی ټولنی د سازمانونو او همدارنګه د نړیوالی ټولنی لپاره د یوه تمرکز په حیث پاتی کیږی. د ښځو او نجونو په وړاندی د خشونت د انفرادی، موسساتی او جوړښتی لاملونو او پایلو د ځواب ویلو په لټه کی، الزامی ده چی په افغانستان کی د ټولو ښځو او نجونو ګټی باید د اړوندو شریکبانو غبرګون تنظیم کړی څو د نښلونکی او پایدارو حل لارو څخه ډاډ حاصل شی.

زما موندنی به په یوه جامع راپور کی د ۲۰۱۵ کال د جون په میاشت کی د ملګرو ملتونو د بشری حقونو شورا ته وړاندی شی.
اغلی رشیده منجو(جنوبی افریقا) د ښځو په وړاندی د خشونت په اړه، د هغه د لاملونو او پایلو په اړه د ملګرو ملتونو د بشری حقونو د شورا لخوا د ۲۰۰۹ کال په جون کی د ځانګړی راپور ورکونکی په حیث ټاکل شوی. د ځانګړی راپور ورکونکی په حیث، نوموړی د هر ډول حکومت یا سازمان څخه خپلواکه ده او په خپل انفرادی ظرفیت کی دنده ترسره کوی. اغلی مانجو د کیپ ټاون په پوهنتون کی د عامه قانون په دیپارتمنت کی پروفیسره ده.

د لا زیاتی زده کړی په موخه لاندی پتی ته مراجعه وکړی:

http//:*www.ohcher.org/EN/Isuues/Women/SRWomen/Page/SRWomenIndex.aspx*
د ځانګړی راپور ورکونکی په اړه د لا زیاتو معلوماتو لپاره لاندی پتی ته مراجعه وکړی: